بسم الله الرحمن الرحيم

رَبِّاجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ آمِنًا

**د کورنیو چارو وزارت دندې:**

**سریزه:**

امنیت د لوی څښتن تعالی غوره ډالی او د افغانستان د خلکو بنسټیزه اړتیا ده، چې الحمدالله له لسیزو جګړو او ناخوالو وروسته په ټول هیواد کې ورځ تربلې امنیت او ټیکاو راغلی دی. د امنیتي ځواکونو په هلو ځلو اوس د افغانستان ولسونه کولی شي، چې له امنیتي اندیښنو پرته شپه او ورځ د هیواد ښارونو او ټولو سیمو ته تګ راتګ وکړي.

د کورنیو چارو وزارت له مهمو او اساسي مسوولیتونه په ټولنه کې د امنیت او عامه نظم ټینګښت، د قانون پلي کول، له جرمونو سره مبارزه، د خدمتونو وړاندې کول او د ټولنې له بېلابېلو برخو سره د اړیکو ټینګول دي.

په هیواد کې د اسلامي امارت له واکمنی وروسته د کورنیو چارو وزارت رهبري د ستراتیژیک پلان په ګډون د پلان جوړولو په برخه کې یو لړ عملي اقدامات ترسره کړي او همدارنګه د یو شمیر کاري لوایحو، پلانونو او تګلارو د بیا کتنې او اجرااتو د چټکتیا په موخه یې عملي ګامونه اخیستي دي، ترڅو دا وزارت د خپلو کاري لوایحو په رڼا کې چټک پرمخ لاړ شي.

همدارنګه د کورنیو چارو وزارت له ولسونو سره د ښو او تلپاتې اړیکو د ټینګولو، خلکو او پولیسو ترمنځ د واټنونو د لیرې کولو او د باور جوړونې لپاره عملي ګامونه پورته کړي دي. په دې موخه، چې پولیس په ټولنه کې د ولسونو باور ترلاسه او د خلکو په منځ کې د اسلامي قوانینو او ملي ارزښتونو په رڼا کې د یوه مشروع او منلي ځواک په توګه خپل رول ولوبوي.

روزل شوي او مسلکي پولیس د هرې ټولنې څرګنده اړتیا ده، د افغانستان ولس هم په هېواد کې د مسلکي او روزل شویو پولیسو غوښتونکي دي. له نیکه مرغه کورنیو چارو وزارت د پولیسو مسلکي توب ته د کار په اصلي محور کې ځای ورکړی دی.

د پولیسو ټول ښوونیز او روزنیز مرکزونه ملي پولیسو ته د ښوونیزو خدمتونو په وړاندې کولو بوخت دي او مونږ هڅه کوو، چې په دې مرکزونو کې د پولیسو ټولو ځواکونو ته په پرلپسې ډول د روزنې، مسلکیتوب او وړتیا لوړونې زده کړې ورکړو.

کورنیو چارو وزارت د اجراییوي ارګان په توګه د اسلامي ارزښتونو د ساتنې، ملي ګټو، ځمکنۍ بشپړتیا او ټیکاو او د اسلامي امارت د حاکمیت ساتنه خپل مسوولیت ګڼي او هم په ټولنه کې قوانین او مقررات په ځانګړې توګه د عالیقدر امیرالمومنین د فرمانونه او لارښوونې په ټول توان او بې له ځنډه پلي کوي. ترڅو د افغانستان ملتونه د اسلامي چوکاټ دننه، د یو سرتاسري حاکمیت او قانون تر سیورې لاندې ژوند وکړي.

له نیکه مرغه، چې کورنیو چارو وزارت د اجراییوي قوې په توګه د امیر المومنین( حفظه الله) ټول فرمانونه او لارښوونې په ښه توګه پلي کړي دي، چې له منځه یې د نشه یي توکو د کښت، قاچاق، تولید، خرڅلاو او کارونې د منعې فرمان یادولی شو.پولیس توانیدلي دي، چې د نشه یي توکو د قاچاق، کښت،

تولید، خرڅلاو او کاروني د مخنیوي په برخه کې پیاوړي ګامونه واخلي او دا ناوړه پدیده، چې له کلونو یې زموږ ټولنه زیانمنه کړې ده، له منځه یوسي.

څنګه چې خبر یوو، په پلازمېنه کابل کې په نشه يي توکو د روږدو کسانو د تربیې او درملنې لپاره د "اغوش" په نوم مرکز جوړ شوی چې د پلازمینې کابل په ګډون د هیواد په کچه په تیر یوه کال کې شاوخوا د ۴۲ زره روږدو کسانو درملنه شوې ده.

همدارنګه، امنیت د افغانستان د خلکو اساسي اړتیا ده، چې الحمدلله د اسلامي امارت له ټینګښت وروسته د هیواد په کچه امنیت د تیرو کلونو په پرتله خورا ښه شوی دی. د افغان ملي امنیتي ځواکونو په هلو ځلو اوس هیوادوال کولی شي، چې د هیواد په ټولو ښارونو او لرې پرتو سیمو کې له امنیتي اندېښنو پرته په ډاډه زړه تګ راتګ وکړي.

د خدماتو د وړاندې کولو معیاري کول، سیستم جوړونه، د مدیریت او اداري پیاوړي کول، د مرکز او ولایتونو د امنیه قومندانیو ترمنځ د اړیکو ټینګېدل او د راپور د سلسله مراتبو ورکولو پروسې فعالول نور هغه څه دي، چې پرې تمرکز شوی دی.

## د افغان ملي پولیسو دندې او مسوولیتونه

• د عامه امن ساتل، د خلکو خوندیتوب او د هغوی د قانوني حقونو او ازادیو ساتنه او د جرمونو د مخنیوي د تدابیرو نیول.

• پر وخت د جرمونو تشخیص او د مجرمینو نیول.

• د اخلاقي بې لاریو، ټولنیز فساد او هغو کړنو پر وړاندې مبارزه چې د خلکو او ټولنې هوساینه ګډوډوي.

• د اشخاصو، ادارو، ټولنو او د عامه او خصوصي ملکیتونو او شتمنیو ساتنه.

• د نشه یي توکو، پلان شویو جرمونو، فساد او سرغړونو سره مبارزه.

• د ښې حکومتولی براربرول.

• له نورو امنیتي ادارو سره په ګډو هڅو د ترهګرۍ، اقتصادي او سایبري جرمونو پر وړاندې مبارزه.

• د ترافیکي چارو نظم او سمون، د اړونده دولتي ارګانونو په همکارۍ د پېښو او د ببړنیو حالتونو د مخنیوي لپاره د تدابیرو نیول.

• د ببړنیو او طبیعي پیښو له قربانیانو سره مرسته او د عامه نظم او امنیت د ټینګښت لپاره د لازمو تدابیرو نیول او د مخنیوي په چارو کې یې د خلکو د همکارۍ جلبول.

• د نړیوالو هوايي ډګرونو په ګډون له سرحدونو څخه د خلکو او وسایطو د تګ راتګ کنټرول او څارنه او د اړوندو بنسټونو په همکارۍ د بار وړونکو محمولو د اسنادو کنټرول.

• د غیر مسؤلو خلکو څخه د وسلو راټولول او د انفرادي وسلو جواز صادرول او د هغې د کارولو څارنه.

• د غونډو، اعتصابونو او لاریونونو لپاره د امنیت برابرول او د ګډوډۍ او بې نظمۍ مخنیوی.

• د دیني او ملي غونډو، لویو ملي پروژو، لرغونو اثارو، ځنګلونو او د هیواد د زیربناوو د امنیت تامینول.

د عامه خدمتونو وړاندې کول

**د هیواد ولایتونو ته د کورنیو چارو وزارت سرپرست وزیر سفرونه:**

د امیر المومنین حفظه الله د هدایت پر بنسټ د تیر یوه کال په لړ کې، د هیواد بیلابیلو ولایتونو ته د کورنیو چارو وزارت چارسمبالي وزیر الحاج خلیفه سراج الدین حقاني سفرونه او د ده لیدنې د ولسونو له بیلابیلو قشرونو سره نورې کړنې دي چې په تیر یوه کال کې تر سره شوي.

کلونه کیږي چې ولسونه د ناامنیو، وینو تویولو او نورو ناخوالو شاهدان دي، د اسلامي امارت په حاکمیت اوس هرې ناخوالي ته د پای ټکی ایښودل شوی او په ټول هیواد کې داېمن امنیت خوندي دی. اوس اړتیا ده چې د هیواد ټول وګړي یوځای او یوه پارچه د هیواد بیا رغونې او ودې ته ور ودانګي.

د هیواد ولایتونو ته د خلیفه صاحب د سفرونو یوه لویه موخه د امنیتي وضعیت د ارزولو تر څنګ، د ملي او بنسټیزو پروژو د کار د پرمختګ ارزیابي او د ولسونو تر منځ د همغږی او یووالي را منځ ته کول دي.

ښاغلي وزیر د خپلو سفرونو په لړ کې، د ولایتي ملکي او نظامي مسوولینو سره د کتنې تر څنګ، د علمای کرامو، ښوونځیو معلمینو، پوهنتونو له استادانو، متنفذینو، مشرانو او ځوانانو سره جلا جلا لیدنې درلودې او د دغه لیدنو په لړ کې یې خلک یووالي ته رابللي او د هیواد د ودې، امنیت او پرمختګ کلی یې د خلکو یووالی وګڼه.

**د دفتر مقام لوی ریاست:**

د کورنیو چارو وزارت د دفتر مقام لوی ریاست په خپل جوړښت کې دوه ملکي او پوځي معاونیتونه، راپور ورکوونکي ریاستونه او د بهرنیو اړیکو او عامه خدمتونو ریاستونه لري.

دا ریاست د کورنیو چارو وزارت د مشرتابه تر مستقیم امر لاندی د فرمانونو د څېړلو، لارښوونو، د اسلامي امارت د مشرتابه حکمونو او مصوبو، د ریاست الوزرا عالي مقام او د چارو د ادارې لوی ریاست د وزارتونو ترمنځ د ښو اړیکو او د لویو خپلواکو ریاستونو، د وزارت په کچه د پلان شویو طرحو آو پروګرامونو څار او کنټرول ټولو قدمو سره په همکارئ سموي او عملي کوي. د دفتر مقام ریاست د رهبري په ناستو کي د وزارت له مقام سره د شخصیتونو، د دولت لوړ رتبه چارواکو، بهرنیو میلمانو او ډیپلوماټانو، سپین ږیرو او مخورو او علما او روحانیونو ناستې برابروي.

همدارنګه، د مرکز او ولایتونو په کچه ټولو قدمو ته د کورنیو چارو وزیر د ځانګړو امرونو او لارښوونو د طرحي جوړولو دنده په غاړه لري.

**د اسلامي امارت د رهبرئ د احکامو، فرامینو او لارښوونو څېرنه**

د ۲۵۴ په تعداد د عالقیدر امیرالمؤمنین حفظه الله او ریاست الوزرا د عالي مقام د فرمانونو، احکامو او لارښونو په شمول او همدارنګه د کابینې او کمیسیونونو ۵۵ مصوبې د کورنیو چارو وزارت ته را لیږل شوې دي، چې له څېړنې وروسته یې د چارو د ادارې د راپور ورکونې لوی ریاست ته راپور ورکړل شوی ده.

همدارنګه د ( ۶۳۵ ) د راپورونو کاپیانې د تفتیش عمومي ریاست، د تفتیش عالي ادارې او د دې وزارت نورو ادارو ته، د وزرات د مقام د لارښونو له ترلاسه کولو وروسته په خلاصه ډول لاس لاندې ادارو ته په ترتیب سره حکم او همدارنګه د تکثیر او څېرنې د راپور غوښتنه ترې شوې ده.

**لومړی معاونیت:**

د کورنیو چارو وزارت لومړي معاونیت مهم لومړیتوب خپلو هېوادوالو ته د سیمه ییزې حکومتولی له لارې غوره او متوازن خدمتونه، د محلي ادارو نه د دې ډاډ چې دوی په ښه وجه ولس ته رسیدنه کوي او هیوادوالو ته د ملي خېرونو له لارې د آرامیتا د زمینې برابرول پر غاړه لري.

د کورنیو چارو وزارت لومړی معینیت د سیمه ییزو شخړو د هواري، د پروګرامونو په مرسته په ټول هیواد کې د اداري واحدونو د ټولو موجودو جوړښتونو بیا ځلې سروې کول، د شنو ځمکو او څړځایونو د ستونزو حل، ځنګلونو ته پاملرنه، وحشي ژوند او ژوو ته پام، له طبیعي بوټو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستې زمینه برابرول او د ستونزو د هواري لپاره سیمه ییزې همغږۍ په مرسته د خلکو د ځمکو او ملکیتونو غصب مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي دي.

د دې تر څنګ د خلکو سیمه ییز اوعیني وضعیت ته په کتو ځیني ولسوالی نوې جوړې شوې، ځینو یې ارتقا کړې او ځینې یې مدغم شوي دي. دغه راز د هېواد په بېلابېلو سیمو کې نږدې سل کلي نوي جوړ شوي دي.

• ۲۷ ولسوالی چې پخوا منظور شوې وې، د مرکزونو په ګډون یې څلور خواوې او پولې یې ټاکل شوي او منظور شوې دي.

• د بلخ ولایت د ګمرک ریاست اړوند د خلم ولسوالی د نایاب آباد ۵۰۰۰ جریبه ځمکه له سمنګان څخه بلخ ولایت ته انتقال او ادغام شوې ده.

• د غورماچ ولسوالی د خلکو د غوښتنې پر بنسټ د فاریاب ولایت څخه بیله او په بادغیس ولایت پورې اړونده شوې.

• د دولتي او وقفي املاکو د پیښو د مخنیوي او څېړلو صلاحیت لرونکي کمېټه د ولایتونو په کچه جوړه شوې او خپل کار یې پیل کړی دی.

• د متوازن او دوامداره پرمختګ لپاره د هېواد د ۳۴ ولایتونو ترمنځ همغږي او همدارنګه د دولتي بنسټونو او ریاستونو ترمنځ همغږي رامنځته شوې ده.

• د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د حکومتدارۍ د ښه والي او تطبیق په موخه د ولایتونو او مرکز کلنی پلان د وزارت له منظورۍ وروسته مسوولینو ته وړاندې شوی دی.

• د ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو، امنیه قوماندانیو او ولسوالیو په ګډه همکارۍ په ولایتونو کې د لرغونو اثارو او غیرقانوني کیندلو مخه نیول شوې ده.

• په نشه يي توکو د روږدو کسانو د درملنې په موخه د عامې روغتیا ریاستونو ته په ولایتونو کې د روږدو کسانو د درملنې د مرکزونو لپاره مناسب ځایونه برابر شوي دي.

## د امنيتي چارو ستر معينيت

د کورنيو چارو وزارت د امنيتي چارو ستر معينيت په هېواد کې د امنيت د تامين او د قانون د پلي کولو مسوولیت لري. دغه معينيت تر خپل واک لاندې امنيتي پوليس (يونيفورم لرونکي پوليس)، د پوليسو ځانګړې قطعې، سرحدي پوليس، امني پوليس، د عامه امن پوليس، ترافيک پوليس، د طبيعي او غير طبيعي پېښو پر وړاندې د مبارزې او اور وژنې پوليس، له جرمونو سره د مبارزې پوليس او د ترهګرۍ ضد پوليس لري.

### امنيتي پوليس (يونيفورم لرونکي پوليس)

يونيفورم لرونکي پوليس د پوليسو لويه برخه جوړوي او د پوليسو د قانون سره سم د پوليسو عمومي دندې او مسووليتونه ترسره کوي. يونيفورم لرونکي پوليس په ټول افغانستان کې په امنيتي سيمو او د تلاشيو په ساحو کې ګمارل شوي، چې ډيرۍ وخت د پيښو په وړاندې لومړۍ ځواب ويونکی ځواک دی.

### د امنيت ټينګښت او د قانون پلي کول:

الحمدلله په تير يو کال کې ملي پوليس توانيدلي، چې د لويو ملي پروژو امنيت، د ټولګټو زيربناوو او تاسيساتو ساتنه، د هيواد د لرغونو اثارو او تاريخي ابداتو ساتنه، د ديني او ملي غونډو امنيت، د کورنيو او بهرنيو ميلمنو او په کابل کې د ميشتو بهرنيو هيوادونو د ډيپلوماتانو د امنيت د نيولو ترڅنګ د هيواد د عدلي او قضايي ارګانونو، وزارتونو او دولتي ادارو د امنيت د تامين په برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

په همدې موخه په تير يوه کال کې ۱۶۴۱ د امنيتي تدابيرو پلانونه نيول شوي او د جنايي او ترهګريزو پيښو د مخنيوي په موخه ۴۳۰۰ کشفي معلومات له اړوندو ادارو سره شريک شوي دي.

په ځينو پلانونو کې په عملياتي کچه د طبيعي او غير طبيعي پيښو د تطبيق پلان، د هيواد په ځنګلونو کې د اورلګيدنې د مخنيوي پلان او په هيواد کې د وروستيو زلزلو او سيلابونو په اړه د مرستو رسولو عملياتي پلانونه تطبيق او عملي کېدو ته چمتو دي.

### د ځانګړو پوليسو د عملياتو، ترهګرۍ سره د مبارزې، عامه امن پوليس او انتک رياست لاسته راوړنې

د پلان شويو جرمونو سره د مبارزې په موخه، د پوليسو ځانګړې قطعې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د ويجاړونکو بريدونو د شنډولو، د ښخ کړې شويو ماينونو د کشف او شنډولو او په ټوليزه توګه د ځانګړو عملياتو مسووليت پر غاړه لري.

دغه راز، د ترهګرۍ سره د مبارزې رياست بنسټيزې دندې په هيواد کې د ورانکارو او تروريستي فعاليتونو له منځه وړل دي.

ياد رياست، په اساسو شرايطو کې، د امنيه قومندانيو منسوبينو د تقويې، د تظاهراتو د مخ نيوي او په ټول هيواد کې د عامه امن راوستول او ولسونو ته دېدمن امنيت خوندي کول د دوی دنده او مسووليت دی.

دغه راز، د ترهګرۍ سره د مبارزې او تخنيکي هدف نيونې رياستونه چې د کشف او جرمونو سره د مبارزې لوی رياست اړونده څانګې دي د وقايې، کشف، د جرمونو د مخ نيوي، د ورانکاره کړنو پر وړاندې مبارزه او د جرمي کړيو د پيژندلو او نيولو په برخه کې کار کوي.

په تېر کال کې يادو شويو ادارو د هيودوالو د غوره امنيت د ټينګښت په موخه د افغانستان د خلکو د دښمنانو د شومو موخو د شنډولو په موخه يو لړ ګډ او خپلواک عمليات ترسره شول، چې عبارت دي له: ۲۲۴ ګډ عمليات، ۱۳۴۵ د پوليسو خپلواک عمليات او ۵۴۳ د ځانګړو پوليسو عمليات.

د يادو عملياتو په پايله کې ۱۷۸۴ تنه د ورانکارو او ترهګريزو فعاليتونو په تړاو نيول شوي دي.

دغه راز په تير يو کال کې ۱۱۶۴۰ ميله سپکي او درنې وسلې، ۳ ميليونه ۳۹۹ زره ۴۷۴ فيره د بېلابېلو سپکو او درنو وسلو مرمۍ، ۴۴۶۴ شاجورونه، ۱۰۱۷ کړۍ مينونه او لاسي بمونه، ۴۸۴ کيلو ګرامه چاودېدونکي توکي، ۳ چاودېدونکي واسکټونه، ۴ د چاودېدونکو واسکټونو دستګاوې، ۲۲۸ زغره وال واسکټونه، ۱۸۸ بېلابېل دوربينونه، ۱۶۲ پايي مخابرې، ۱۴ د جي پي اېس دستګاوې، ۳ سټلايټ ، ۷۷۱۴ ګرځنده مبايلونه، ۹۴۹۸ داني ناقانونه سيم کارتونه، ۸۸ پاسپورټونه او ۱۲ جعلي ويزې، ۱۶ لرغوني اثار، ۳۷۹۰ کيلو ګرامه قيمتي ډبرې، ۴۲ سپين الماس، ۷۲۵ زره افغانۍ جعلي پيسې، يو هوايي بالون او نور پوځي تجهيزات د پوليسو لاس ته ورغلي دي.

دغه راز، ۱۲۵ عرادې نظامي موټر لکه، ۷۴ عرادې هاموي ټاکونه، ۳۵ عرادې رنجر موټر، ۴ عرادې امبولانسونه، ۱۱ عرادې انټرنشنل بارورونکي موټر او يو عراده زغره وال فورډ موټر چې د غير مسووله کسانو له لوري غلا کړل شوي وو د عامه امن پوليسو په هڅو بيرته لاسته راغلي.

- **جنايي جرمونو په وړاندې مبارزه**

کشف او د جنايي جرمونو سره د مبارزې لوی رياست چې د جنايي څېړنو، د ترهګرۍ سره د مبارزې، کريمنال تخنيک، تخنيکي هدف نيوني او انټرپول رياستونه تر خپل اثر لاندې لري. د دغه رياست مسلکي دندې هغه مهال پيلېږي، چې جرمونه ترسره او يا پوليسو ته خبر ورکړل شي، جنايي جرمونو سره د مبارزې پوليس د مجرمينو د قانوني څار او نيولو لپاره اړين معلومات او اسناد راټولوي.

له جرمونو سره د مبارزې د عمومي رياست نورې دندې د هېواد د جنايي او امنيتي وضعيت څېړل، د جرمونو د ګراف د لوړېدو او راټيټېدو د عواملو څېړنه او د تخنيکي او تکتيکي بدلونونو څېړل دي، چې د مجرمينو په جنايي بڼه او کرکټرونو کې د انساني قاچاق، جنسي تيري، اختطاف، قتل، فساد او ترهګرۍ په بڼه رامنځته کېږي او ياد رياست پرې تمرکز او پاملرنه کوي.

**جنايي جرمونو سره د مبارزې په برخه کې لاسته راوړنې**

تر هر څه لومړی بايد د اسلامي امارت د واکمنۍ د ۲۱ مياشتو د پيښو شويو جنايي جرمونو ګراف د تيرې اداري له ۲۱ مياشتو سره پرتله کړو.

د جرمونو ګراف د اسلامي امارت د واکمنۍ په تېرو ۲۱ مياشتو کې د تېرې ادارې د تېرو ۲۱ مياشتو په پرتله ۹۳۴۷ پيښې کموالی ښيي.

د تېرې ادارې په ۲۱ مياشتو کې په هېواد کې ۲۹۶۶۹ ( نهه ويشت زره شپږ سوه نهه شپيته) بېلابېلې جنايي پيښې شوې دي.

خو د اسلامي امارت د واکمنۍ په ۲۱ مياشتو کې په ټول هېواد کې ۲۰۳۲۲ (شل زره درې سوه دوه ويشت) جنايي پيښې ثبت شوې دي.

**په تېر کال کې جنايي پېښې**

په تېر کال کې په هېواد کې، ۱۲۲۸۳ ( دولس زره او دوه سوه او درې اتيا) جنايي پېښې شوي دي، چې له دې جملې څخه ۹۷۷۴ پېښې د پوليسو له خوا کشف شوي او ۲۵۰۹ پېښې د پوليسو تر کار لاندې دي. په ټول هېواد کې په يادو جنايي پيښو کې د پوليسو له خوا، ۱۷۲۱۷ ( اولس زره دوه سوه اولس) تنه شکمن کسان نيول شوي او ۱۱۹۵ کسان په تېښته بريالي شوي، چې د پوليسو له خوا تر جدي څار لاندې دي.

د تېر يو کال په موده کې د محکمو ۱۵۳ پريکړې پلي شوي، چې په پايله کې يې ۱۷۴ تنه نيول شوي او عدلي ارگانونو ته سپارل شوي دي.

**انسان تښتونې:**

د انسان تښتونو په قضيو کې د شکمنو کسانو پيژندل او نيول د پوليسو لومړيتوبونه دي. د جنايي جرمونو پر وړاندې د مبارزې پوليس په پوره جديت سره هڅه کوي چې تورن کسان په هر ځای او هر وخت کې وپيژني، وې نيسي او د قانون منگولو ته يې وسپاري.

د تير يو کال په موده کې په هيواد کې پوليسو سره د سړي تښتونو ۱۰۶ پيښې ثبت شوي او په دغه پېښو کې پوليسو د سړي تښتونکو پر وړاندې ۲۰۰ عمليات ترسره کړي دي.

دغه راز، په دغو عملياتو کې پوليسو ۱۹۰ شکمن کسان نيولي دي.

او ۱۳ تنه انسان تښتوونکي چې د عملياتو په بهير کې له پوليسو سره په وسله واله نښته کې ښکيل وو، وژل شوي دي.

د تېر يو کال په موده کې په ورته بېلابېلو قضيو کې زموږ ٤٤ تنه هېوادوال چې تښتول شوي وو، خوشې کړل شوي دي.

له بده مرغه، چې د تښتول شويو کسانو له ډلې ۶ تنه هيوادوال يې د تښتوونکو له لوري د تښتونې په څو بېلابېلو پېښو کې شهيدان شوي دي.

**کرمينال تخنيک:**

کرمينال تخنيک د کورنيو چارو په وزارت کې د جرمونو او څيړنو يوه علمي څانگه ده.

د تېر يوه کال په موده کې ۵۱۰۵ دوسيې د عدلي او قضايي ارگانونو له خوا د څيړنو په موخه دغه رياست ته استول شوي دي.

د يادو قضيو له څېړلو وروسته؛ تر دې دمه ياد رياست (۳۴۸۵) (درې زره څلور سوه پينځه اتيا) قضيې مثبتې ارزولي او (۱۳۹۱) قضيې منفي ارزول شوي دي، ۱۵۹ قضيې د شکمنتيا پر بنسټ بېرته گرځول شوي او ۷۰ قضيې تر څېړنې لاندې دي.

د تېر یوه کال راهیسي د جرمونو د کشف او مبارزې د عمومي ریاست د جنایي تخنیکي څانګې مسوولینو په ټولیز ډول (۶۵۹۱۰۰) تنه (شپږ سوه نهه پنځوس زره او سل ) کسان د بیلابیلو موخو لپاره په بایومتریک سیسټم کې ثبت شوي دي.

**نړیوال پولیس (انټرپول)**

د کورنیو چارو وزارت نړیوال پولیس د جرمونو د موندلو او مبارزې لوی ریاست په چوکاټ کې فعالیت کوي.

په یوه کال کې د کورنیو چارو وزارت د نړیوالو پولیسو له خوا ۲۳۴ قضیې تر کار لاندې دي.

په یو کال کې نړیوالو پولیسو بهر ته د نغدو پیسو د قاچاق د ۹ قضیو مخه نیولې چې ټولټال یو میلیون او ۱۵۵ زره او ۵۰۰ امریکایي ډالر کیږي او د دغو قضیو په تور یې ۹ تنه نیولي دي.

همداراز، نړیوالو پولیسو یا انټرپول د هېواد په بندرونو کې د جعلي پاسپورټونو د لرلو په تور ۶۱ تنه نیولي دي.

او د کورنیو چارو وزارت د نړیوالو پولیسو د څانګې له خوا ۱۶۲ جنایي قضیې د ډیپلوماټیکو لارې په رسمي ډول د بهرنیو چارو له محترم وزارت سره شریکې شوې دي.

**د ډایاک برخه:**

یاده اداره په تیر یوه کال کې توانیدلي چې، د زغروالو وسایطو او وسلو ګرځولو جوازونو د ورکړې له لارې، ۱۶۷۰۵۰۰۰۰ (یو سلو اوه شپیته میلیونه پنځوس زره) افغانۍ د دولت خزانې ته ولیږدوي.

د ډایاک اداره د ناقانونه وسلو، ډیپوګانو، مهماتو، ماینونو او چاودېدونکو توکو د ټولولو مسوولیت لري.

په تېر یوه کال کې لاندې وسلې او مهمات یادې ادارې ته تسلیم شوي دي:

۷۸۴ میله ډول ډول وسلې، ۲۳۳۸۵ (درویشت زره دری سوه پینځه اتیا) مرمی او د ډول ډول وسلو مهمات، ۲۱۸ شاجورونه، ۱۹ لاسي بمونه، ۱۴ پایې مخابرې، ۳۲ ماینونه، ۱۱۰۳۹ ( یوولس زره نهه دېرش) پټاقی، ۲۲ د درنو وسلو سرګلولي، ۷۲ صندکه مرمی، ۶ داني دوربینونه، ۹ کیلو ګرامه پوتاشیم ، ۱۴۰ بستې چاودیدونکي توکي او ۴۰ فیره نارنجک ویشتونکي چې د طرزالعمل نه بهر د امنیتي کمپنیو په واک کې وو، وروسته له راټولیدو رسماً ډایاک ته سپارل شوي.

- **د اداري چارو معینیت**

اداري معینیت د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د بشري سرچینو د استخدام، پولیسو د جلب او جذب، د پولیسو د روزنې او زده کړې او نورو برخو کې کار کوي.

یاد معینیت د ځواکونو د تنظیم ، پېژنتون، بشري سرچینو، د پاسپورټ لوی ریاست، د ښوونې او روزنې لویه قومنداني، د پولیسو رهبرۍ د لوړو زده کړو قومنداني، د پولیسو اکاډمۍ قومنداني او د تعلیمي چارو د انسجام ریاست په خپل جوړښت کې لري.

**ښوونه ، روزنه او مسلکي کول**

د کورنیو چارو وزارت د رهبرۍ له مهمو او اساسي لومړیتوبونو څخه د ملي پولیسو ښوونه او روزنه او مسلکي کول دي. پر دې بنسټ د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د کورنیو چارو وزارت ټول ښوونیز او روزنیز مرکزونه فعال او د پولیسو ځواکونو ته د ښوونې او روزنې، مسلکي او تخصصي زده کړو په ښوونه بوخت دي.

په تیر یو کال کې ۴۶ زره ۵۳۳ ( شپږ څلوېښت زره پنځه سوه درې دېرش تنه) د پولیسو له بیلابیلو ښوونیزو مرکزونو څخه له لنډ مهاله او منځ مهاله زده کړو فارغ شوي او ۲۴۰۰۰ ( څلور ویشت زره) تنه د لیک لوست زده کړو په پروګرامونو کې شامل شوي دي.

دغه راز، ۳۱ دانې کلپونه د پلازمینې کابل په ګډون د هیواد په ټولو ولایتونو کې جوړ شوي چې ۴۵ تنه ورزشکاران رسماً د ښوونې او روزنې لویې قومندانۍ په تشکیل کې ځای لري او ۱۲ زره تنه آزاد ورزشکاران د پولیسو له ورزشي خپرونو حمایت کوي او په تیر یوه کال کې یې دوه نړیوالې مسابقې او ۷۴ کورنی مسابقې په لاره اچولي.

دا مهال ۱۵۲۵ تنه پولیس د لیسانس په څانګه کې په زده کړو بوخت دي او په تېر کال کې ۳۰۰ محصلین د پولیسو اکاډمۍ ته جذب شوي دي.

په همدې توګه ۱۹۰ تنه د ماسترۍ په څانګو کې په لوړو زده کړو بوخت دي.

همدارنګه په یو کال کې د بېلابېلو ادارو (۲۱۴۰) د پولیسو منسوبین او کارکوونکي د ظرفیت لوړونې پروګرامونو ته ورغلي، ۶۳۰ له بیلابیلو مسلکي کورسونو او ۳۷ تنه ښځینه کارکوونکې د ښځینه کالج څخه فارغې شوي.

دغه راز، د پولیسو د ښوونیزو او روزنیزو مرکزونو تعلیمي نصاب او درسي مفردات له اسلامي او ملي روحیې سره سم ارزول شوي او بیاځلي تدوین شوي دي.

**جلب او جذب او تشکیلات:**

د بشري سرچینو تشکیلاتي جوړښت او ټاکنې د کورنیو چارو وزارت د اړتیاو پر بنسټ ترسره شوي.

په ټولیزه توګه د کورنیو چارو وزارت تشکیلاتي حد ۱۶۱ زره ( یو سل او یو شپېته زره) بستونه لري او اوسمهال په دغو بستونو ۱۳۹۵۷۰ ( یو لک او نهه دېرش زره پینځه سوه اویا تنه) افسران، ساتنمنان، ساتونکي او ۶۲۴۷ تنه ملکي منسوبین شامل دي .

**د تاميناتي چارو معینیت:**

د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د تاميناتي چارو معینیت د ظرفیتونو په دوامداره پراختیا او د پولیسو د مالي، مادي، لوژستیکي، ارتباطي او تخنیکي ظرفیتونو په لوړولو تمرکز کوي. د پولیسو او د هغوی د کورنیو د ژوند د ښه والي، د پولیسو لپاره د مناسبو او سالمو خدمتونو وړاندې کول، د معاشونو برابرولو، د پولیسو د حقوقو او امتیازاتو ورکړه، د مالي، بودیجوي او تدارکاتي چارو سمون، د تجهیزاتو،

وسلو او د پولیسو د وسایطو د کیفیت ښه والی، د روغتیایي خدماتو ارایه کول، د ودانیو جوړول او پولیسو ته د لازمو اسانتیاوو برابرول د یاد معینیت له اساسي موخو څخه ګڼل کیږي.

**لوژستیک:**

• د تېر یو کال په موده کې په بېلابېلو لوژستیکي برخو کې ۵۴۹ قراردادونه ترسره شوي، چې ټولټال اته میلیارده، یو سل دوه پنځوس میلیونه او اوه سوه زره افغانۍ ارزښت لري.

• ټول نظامي، تخنیکي او لوژستیکي عینیات په فزیکي ډول په ۳۴ امنیه قومندانیو کې د ولایتي چاروا‌کو او نورو برخو او د پولیسو د واحدونو په ګډون ایجاد شوي دي.

• ټولټال ۳۰۹ بېلابېل موټرونه او ۱۷۷ نوي پېرودل شوي موټرسایکلونه پولیسو ته وېشل شوي دي.

• په یوه کال کې ۳۳۱۵ غیرفعاله وسایط او ۲۳۶۱ غیرفعاله وسلې د کورنیو چارو وزارت په ورکشاپونو کې ترمیم او فعال شوي دي.

• ډېری پولیسو ته یونیفورم چمتو شوی او ویشل شوی او پاتې ځواکونو ته د یونیفورم رسولو پروسه روانه ده.

**مالي او بودیجه:**

د کورنیو چارو وزارت د (۱۴۰۱) مالي کال ټوله بودیجه (۴۲ میلیارده او نهه سوه اته پنځوس میلیونه افغانۍ وه.

کورنیو چارو وزارت له ټولې بودیجې (۴۲ میلیارده دوه سوه دوه میلیونه افغانۍ) چې د ټولې بودیجې ۹۸ سلنه جوړوي، لګولې ده.

د یاد یو کال په ترڅ کې د کورنیو چارو وزارت له څانګو څخه ( اته ملیارده څلور سوه دوه اتیا میلیونه افغانۍ) عواید لکه؛ پاسپورټونه او ویزې، ترافیکي خدمتونه، د عامه ساتنې خدمتونه، د مخابراتي وسایلو فیس، د وسلو جوازونه، د زغره والو موټرونو جوازونه او نورې عایداتي برخې خزانې ته جمع شوي دي.

**تدارکات:**

د یو کال په موده کې (۴۰) پروژې د ازادې داخلي داوطلبۍ له لارې، ۱۷۶ پروژې د تدارکاتو د مسؤلینو له خوا، ۲۴ پروژې د پرچون تدارکاتو د کمیټې له لارې او ۱۶۱ د کورونو د کرایې ورکولو په برخه کې په ټولیز ډول د نهه ملیارده څلور سوه پینځه ویشت میلونه افغانیو په ارزښت د کورنیو چارو وزارت د تدارکاتو ریاست اداری لخوا په قرارداد ورکړل شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت د تدارکاتو ریاست توانېدلی چې له دغو قراردادونو څخه ۲ میلیارده ۷۲ میلیونه ۲۵ زره افغانۍ سپما وکړي.

**رغونه او ساتنه/ حفظ او مراقبت:**

د کورنیو چارو وزارت د تعمیراتو ریاست پولیسو ته د رغونې، پرمختیا او د تاسیساتو د بریښنا د تمدید او د کورنیو چارو وزارت د ټولو ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب په څانګو کې کارکوي.

دې اداري په تېر کال کې په ټولیزه توګه ۱۴۱ پروژې د جوړونې، رغونې او د ژورو ځاګانو د ویستلو په برخه کې کار کړي. چې له ډلې یې ۹۰ پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او په پاتو یې کار روان دی.

همداراز، ۲۰ پروژې، چې له تېرې اداري نیمګړې پاتې وې، په تېر یوه کال کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او په پاتو څلورو یې کار روان دی.

د انجینرۍ سروې او ډیزاین په برخه کې ۳۳۲ پروژې بشپړې او اسناد یې تر کار لاندې دي.

په دغه پروژو کې ۲۵۹۹۹۳۲۴۷۲ ( دوه میلیارده پینځه سوه نه نوي میلیونه نهه سوه دوه دیرش زره څلور سوه دوه اویا) افغانۍ په مصرف رسیدلي.

**مخابره او معلوماتي ټکنالوژي:**

د کورنیو چارو وزارت د مخابرې او معلوماتي ټکنالوجۍ ریاست توانېدلی چې د یو کال په موده کې د کورنیو چارو وزارت په بېلابېلو څانګو کې د سیستم جوړونې لړۍ په لاره واچوي.

چې په دې لړ کې ؛ د زغره والو وسایطو د جواز ویش ، د کورنۍ شبکې مدیریت، د جرمي قضیو د ثبت ، د هوایی ډګرونو د ممنوع الخروج ، د بشري منابعو د ازموینې ، د ټرافیکي وسایطو د ثبت ، د حمایوي قومندانۍ د ورکشاپ ،عامه خدمتونو، تشکیلاتو، د ځانګړو ځواکون، درې سوه بستریز روغتون، د سیم کارت ثبتولو او مالي سیستومونه شامل دي.

• د هېواد د مرکز او ولایتونو ټول دفترونه له انټرنېټ سره وصل شوي دي او د هېواد د پولیسو په ټولو برخو او قطعاتو کې مخابراتي اړیکې ټینګې شوي دي.

• تراوسه د امنیت د تامین لپاره په اړینو ځایونو کې ۱۵۹۰ امنیتي کمرې نصب او فعالې شوې دي.

د مخابراتي وسایلو، کمپیوټرونو، امنیتي کمرو، شبکوي وسایلو، مطبوعاتي وسایلو، رنګه پرنټرونو او انټرنیټ په موخه د ۷۱۲۰۰۰۰۰۰( اووه سوه دولس میلیونه افغانیو) په ارزښت ( ۲۷ ) قراردادونه بشپړ او اکمال شوي دي.

• په ټولیزه توګه د پولیسو مخابروي او کمپیوټري اړوند ۳۵۵۶ وسایل ترمیم او د کارونې لپاره چمتو شوي دي.

**• نشه يي توکو سره د مبارزې معینیت**

د کورنیو چارو وزارت د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو، د نشه يي کښتونو د غیر قانوني ازمایلو او د نشه يي توکو د کښت، قاچاق او لېږد د څېړلو مسوولیت لري.

نشه يي توکي یوه ناوړه پدیده ده، چې له بده مرغه په تېرو کلونو کې زموږ زیاتره هیوادوال ترې اغېزمن شوي دي. په نشه يي توکو د خپلو هېوادوالو د روږدي کېدو د مخنیوي او له دغې ناوړه پدیدې سره د جدي مبارزې په موخه د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه له نېکه مرغه دې مسئلې ته پاملرنه کړې او د یادو توکو د کښت، تولید، قاچاق، خرڅلاو او استعمال مخه نیول شوې او په هیواد کې په بشپړ ډول منع ګرځول شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت په دې برخه کې د امیرالمومنین ( حفظه الله) د فرمان په پام کې نیولو سره عملي ګامونه پورته کړي او له نشه يي توکو سره مبارزه د خپلو کاري لومړیتوبونو په سر کې ګڼي.

چې د اغوش په نوم د پنځه زره بستریز تربیتي او روغتیایي مرکز جوړول ددغې لړۍ یو عملي ګام بللی شو. چې یاد مرکز په نشه يي توکو د روږدو کسانو د درملنې لپاره ځانګړی شوی دی.

په تیر یوه کال کې، ۴۲۸۸۸ (دوه څلویښت زره اته سوه اته اتیا ) تنه په نشه يي توکو روږدي کسان د هیواد له ښارونو څخه راټول شوي او په دغه مرکز او ورته نورو د درملنې په مرکزونو کې بستر شوي دي.

**نشه يي توکو سره د مبارزې پولیسو لاسته راوړنې**

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو په تېر یو کال کې په هېواد کې د نشه يي توکو د کشف او موندلو او د قاچاق وړونکو د نیولو په موخه ۵۲۰۹ عملیات کړي دي.

د دغو عملیاتو په پایله کې، ۲۲۸۲ ټنه ډول ډول نشه يي توکي او ۶۲۹۵۳۳ (شپږسوه نه ویشت زره پینځه سوه دري دیرش) قرصه د کا نشه يي تابلیت کشف او ضبط کړي.

په دغو عملیاتو کې د ۶۴۴ فابریکو په ګډون؛ د نشه يي توکو د تولید او پروسس کارخونې، د الکولي مشروباتو کارخونې او د نشه يي ټابلیټونو د تولید فابریکې کشف او له منځه وړل شوي دي.

د یادو پیښو په تړاو پولیسو ۵۹۱۹ تنه نیولي او له نیول شویو کسانو ۱۲۲ میله وسلې، ۴۸۵ عرادې موټر، ۱۵۸۹ موبایل سیټونه، ۶ پایې مخابرې او ۸۷۰۰۰۰۰ ( اته میلیونه اوه سوه زره) افغانۍ، اته نیم میلیونه کالدارې ۵ میلیونه تومنه او ۱۲ زره امریکایي ډالره نیول شوي دي.

دغه راز د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو د تېر یوه کال په ترڅ کې (۱۱۲۵۳) هکتاره ځمکه د کوکنارو له کښت پاکه کړې ده.

همدارنګه په یو کال کې د نشه يي توکو د سروې ۱۶ شمیرې تحلیلي راپورونه او د نشه يي توکو ۱۸۰ نقشې او ګرافونه جوړ او خپاره شوي دي.

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د ساحوي او مرکزي سروې او تحلیل کوونکو او سیمه ییزو کارکوونکو په ګډون ۱۳۹۱ کسانو مسلکي زده کړې ترلاسه کړې دي.

**هغه عملي اقدامات چې نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې ترسره شوي، په لاندې ډول دي:**

- د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ټولې مرکزي او ولایتي ځانګې فعالول
- په نشه يي توکو د روږدو کسانو د راټولولو، ساتنې او درملنې لپاره د ۵۰۰۰ بسترونو مرکز فعالول
- د نشه يي توکو او نشه يي توکو سره د مبارزې په اړه د قانون بیاکتنه
- د روږدو کسانو د راټولولو، ساتلو او درملنې لپاره د کړنلارې ترتیب او نشه يي توکو لپاره د طرزالعمل برابرول
- د امیرالمؤمنین ( حفظه الله) د فرمان په اړه له علماوو او خلکو سره د سیمینارونو او غونډو جوړول
- د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په موخه د اړونده ارګانونو د کارکوونکو د وړتیا لوړولو په موخه د روزنیزو سیمینارونو جوړول

**• د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت**

د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د پروګرام جوړونې او پالیسۍ جوړولو په برخه کې کار کوي.

د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت، د یو کال په موده کې د ستراتیژیک پلان، پلانونو او طرزالعملونو په ګډون یو لړ سندونه تدوین کړي او د تطبیق لپاره یې اړوندو ادارو ته سپارلي دي.

د امیرالمومنین حفظه الله د (۱۴۰۸) ګڼه فرمان او/۱۴۴۳/۸/ نیټې له مخې د کورنیو چارو وزارت یو شمیر لارښود سندونه له اړوندو څانګو سره په همغږۍ او دیني ارزښتونو ته په پام سره، له سره تدوین او بیاځل کتل شوي دي.

**تګلارې او ستراتیژیانې:**

له نېکه مرغه، کورنیو چارو وزارت د خپل څلور کلن ستراتیژیک پلان سند (۱۴۰۲ تر ۱۴۰۵) کاله پورې ټولو اړینو لوریو ته په پام سره ترتیب کړی دی.

دا سند مهمو اغېز لرونکو مسایلو ته په پام سره لکه ( نفوس، جغرافیه، میشت قومونه، نشه یي توکي، غیري مسؤله وسله والې ډلې، د جنایي جرمونو روزل شوي ډلې، سرغړونې، سواد کچه، ملي پروژې، سرحدونه، بندرونه، هوایي ډګرونه، ټولګټي ځایونه، په اوس او پخوا کې د جرمونو کچه، د خصوصي سکتور پانګه اچونه، عامه خدمتونه، طبیعي او غیر طبیعي پېښې، د لویو لارو د امنیت نیول، ملي سرچینې) او د معلوماتو راټولولو کړنلاره ( پیاوړي ټکي، ننګونې او حل لارې) په اړوند د ښوونې او روزنې، له جرمونو سره د مبارزې، ترافیکو، سرحدونو، زندانونو او توقیف خونو، تروریزم او معلوماتي او مالي تکنالوژۍ کې شویو څېړنو او شننو ته په کتو په دوارو ملي ژبو تدوین او اجرا ته وړاندې شوي دي.

**پالیسۍ:**

اوسمهال، جرمونو سره د مبارزې، ښوونه او روزنه او سرحدي پالیسي جوړې شوي او د پلي کېدو په حال کې ده.

مسلکي او تخصصي ټیمونو د عامه اړیکو او نشه یي توکو او الکولو سره د مبارزې د پالیسیو په ترتیب او بشپړولو کارکوي.

**کړنلارې:**

په چارو کې د چټکتیا او اسانتیا لپاره او د هرې ادارې د کاري پایښت سره سم د ستراتیژیکو اسنادو د سمې پیژندنې لپاره اغېزمن طرزالعملونه ترتیب شوي، چې په لاندې ډول دي:

۱۴ کاري کړنلارې، چې د خصوصي شرکتونو کړنلاره، په هیواد کې د بې اسنادو( ښي لاس) وسایطو د مالکینو د ثبت او راجستر ، د تحقیقي سرچینو ، ښکاري ټوپکو کارولو ، ټکسیانو ته د جواز ورکولو ، د کورنیوچارو وزارت د غیر منقولو ملکیتونو کرایي او اجاره ورکولو ، د لوړو زده کړو چارو د انسجام ، د کرمینال تخنیک ، د تورو شیشو لرونکو موټرو ، د واردولو، لېږد، ساتنې او خرڅلاو ، د شکمنو او تورنو کسانو د څارنې ، له سهمیې بهر د وسلو د ورکړې جواز ، د ښوونې او روزنې لویې قوماندانۍ او د پیښو د مدیریتي سیستم کړنلارې، بشپړې شوې دي او د تطبیق لپاره د یاد وزارت ټولو قدمو ته استول

شوي دي. په تېر يو کال کې ۱۰ زره ټوکه کړنلارې چاپ او د عملي کېدو لپاره قطعاتو او د پوليسو ټولو جزتامونو ته ورکړل شوي دي.

**پلانونه:**

د کورنيو چارو وزارت د ۱۴۰۱ کال عمومي پلان او همدارنګه د دې وزارت د ۱۴۰۱ کال لپاره د متوقع پايلو پر بنسټ پلان، چې د پلي کېدو په موخه په پښتو او دري ژبو د کورنيو چارو وزارت د محترم سرپرست له خوا د کورنيو چارو وزارت په ټولو قدمو ويشل شوی دی.

همدارنګه، د کورنيو چارو وزارت د پلان جوړوني مسوولينو ته د معلوماتو ورکولو او لارښووني په موخه، ددې کال د وروستيو شپږو مياشتو لپاره فساد سره د مبارزې عملي لارښود پلان او د کورنيو چارو وزارت د لومړي معاونيت لارښود پلان د وروستيو شپږو مياشتو لپاره تدوين او د پلي کيدو په حال کې دی.

**طرحې او ميکانيزمونه:**

شپږ طرحې ( د قطعو/ ټوليو نومولو ، د ښوونيز ـ اداري ځايونو ، د شعارونو او سمبولونو ، د جګړې په ځای کې د انځور نه اخيستلو ، د هيواد له خپلواکۍ او سولې څخه د دفاع د قطعې د منځ ته راوړلو ، د کانونو د غلا او چور د مخنيوي په پار د کورنيو چارو وزارت امنيتي رول او د کابل ښار په واټونو کې د ترافيکو د ناسم وضعيت طرحې ) بشپړې شوې دي.

• په راکړه ورکړه کې د بهرنيو اسعارو د نه کارولو او د سوالګرو د راټولولو او د سوال د مخنيوي لايحه د هيواد په کچه د ګمارل شوې کيمټې لخوا وروستۍ او د اجرااتو لپاره په اړونده ادارو ويشل شوې ده.

• د بايومتريک په سيستم کې د مجاهدينو د جرمي سوابقو او ستونزو د حل لپاره د ګمارل شوې کميټې لخوا طرحه چمتو او د منظورۍ لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د رياست الوزرا د محترم مقام لخوا د منظورۍ وروسته په ټولو قدمو باندې ويشل شوې ده.

• همدارنګه د څلورو نورو طرحو جوړول (د مجاهدينو او خلکو ترمنځ د اړيکو ټينګولو ، د ککړې هوا کمولو ، په نشو د روږدو کسانو د درملنې او نشه يي توکو سره د مبارزې طرحې وروستۍ شوې او د عملي کېدو لپاره چمتو ده.

**• د خدمتونو وړاندې کول:**

د کورنيو چارو وزارت يو لوی مسوليت او دنده هيوادوالو ته ښه او پر وخت خدمتونه وړاندې کول دي. د کورنيو چارو وزارت رهبري د خدمتونو د سمون او معياري کولو په موخه يو لړ عملي ګامونه پورته کړي او هيله لرو، چې په نږدې راتلونکي کې به د کورنيو چارو وزارت د هيودوالو لپاره د خدمتونو په څانګو کې لا زياتې اسانتياوې رامنځته کړي.

**په هوايي ډګرونو کې خدمتونه، او په هیواد کې عبور کنټرول**

د کورنیو چارو وزارت د سرحدي پولیسو ځواکونه د امنیتي چارو ستر معینیت په چوکاټ کې د هېواد په ۹ نړیوالو هوایي ډګرونو، ۱۳ سیمه ییزو هوایي ډګرونو او ۲۳ سرحدي او ځمکنی کنټرول نقطو کې ځای پر ځای شوي او په خپلو دندو بوخت دي.

ټول هوایي ډګرونه او د تلو راتلو ځایونه په معیاري سیستم سمبال دي، چې د بهرنیو اتباعو او هیوادوالو هویت او د فعالیت څرنګوالی وپیژني.

په تیر یو کال کې د سرحدي پولیسو لپاره ۱۵ ښوونیزو او مسلکي پروګرامونه په لاره اچول شوي چې د ځمکنیو بندرونو او هوایي ډګرونو له لارې د خلکو د ښار او کنټرول، د انساني قاچاق، مالونو او توکو او غیر قانوني توکو د قاچاق مخنیوي په موخه زده کړې ترلاسه کړي.

سرحدي پولیسو په وروستي یو کال کې د هېواد په هوایي ډګرونو، پولو او د کنټرول په ساحو کې ۳۸٦ جنايي پېښې کشف او په یادو پېښو کې یې ٦۹٦ شکمن کسان نیولي دي.

په همدې توګه، سرحدي پولیسو د ۱۰۸ کیلو ګرامه نشه يي توکو د لیږد په تړاو د ۳۹ پیښو په لړ کې ۴۵ تنه نیولي دي چې، یادو کسانو غوښتل چې ذکر شوي مواد د هوايي ډګرونو له لارې بهر ته ولیږدوي.

په ورته وخت کې سرحدي پولیسو د کروندو له لارې له هېواده بهر ته د زیاتو پیسو او ممنوعه توکو د قاچاق مخه نیولې ده چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:
۲۵۰۰۰۰۰ (دوه میلیونه پینځه سوه زره ) امریکایی ډالر، ۳۳۰۰۰ (دري دیرش زره ) پونډه، ۱٦۲۵۰ (شپاړس زره دوه سوه پنځوس) یورو، ۷۰۷۰۰ (اویا زره اوه سوه ) دیناره، ۳٦۳۰٦۰ (درې سوه دري شپیته زره شپیته ) درهم، ۳۹۳۰۰۰ (درې سوه دري نوي زره ) سعودي ریال، ۱۵۰۰۰۰ (یو سلو پنځوس زره ) ترکي لیره، ۱۳۱۷۴۵۰۰ (دیارلس میلیونه یو سلو څلور اویا زره پیځه سوه ) پاکستانی کلدارې، له ۱٦ کیلو ګرامو څخه ډېر سره زر او 7 ټوټې مجسمې دي.
**د پاسپورټ خدمتونو څانګه:**

د پاسپورټ لوی ریاست هیوادوالو ته د پاسپورټ خدمتونو د وړاندې کولو دنده لري.

په تیر یوه کال کې ۷۱۰ زره ټوکه پاسپورټونه غوښتونکو ته ورکړل شوي، چې ۴ میلیارده ۸۲۱ میلیونه افغانۍ عواید ترې د دولت خزانې ته جمع شوي دي.

دغه راز، د ۴۸۵۹ پاسپورټونو ویزې تمدید شوي، چې له کبله یې ۱ میلیون ډالره عواید ترلاسه شوي دي.

همدارنګه د پاسپورټ غوښتونکو ته اسانتیاوې رامینځته شوي چې په لاندې توګه یې یادونه کوو:

• په هېواد کې پانګوني ته د پانګوالو، صنعتکارانو او ملي سوداګرو د هڅوني په موخه د پاسپورټ یوه څانګه د صنعت او سوداګرۍ وزارت په انګړ کې منځ ته راغلې.

• د ناروغانو، محصلینو او حاجیانو لپاره د پاسپورټونو په ویش کې اسانتیا رامنځته شوې ده.

• د پاسپورټ غوښتونکو په عریضو کې د درغلی او جعل د مخنیوي لپاره د سټیکر ثبتولو څانګې رامینځته کول.

• د انلاین سیستم په وسیله په الکترونیکي توګه د بانکي تعرفو جوړول او فعالول.

**د ترافيکو خدمتونه:**

د ترافيکو لوی ریاست د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د ترافيکو د سالم جریان د ساتنې او د ترافيکو د تقنیني قانون په رڼا کې ترافیکي چارو ته د رسیدو، د جواز سیر مقررات، د موټر چلولو مقررات او د سرعت او حرکت مقرراتو د پرمخ بیولو په موخه کار کوي.

په تیر یوه کال کې کې (۱۱۶۴۳۰) (یو سل او شپاړس زره څلور سوه او دېرش) تنو موټر چلولو ته لایسنس ورکړل شوی، چې له درکه یې ۶۹۱۶۷۰۰۰( نهه شپیته میلیونه او یو سل او شپیته زره) افغانی عواید د دولت خزانې ته جمع شوي دي.

• ۵۳۳۷۹ (درې پنځوس زره درې سوه نهه اویا) توکه د موټر چلولو ته جوازونو وېشل شوي، چې ترې ۲۴۳۲۹۹۰۰۰(دوه سوه دري څلويښت میلیونه دوه سوه نهه نوي زره افغانۍ) عواید ترلاسه شوي او د دولت خزانې ته سپارل شوي دي.

ـ د ۳۲۵۰۰۰ ( درى سوه پينځه ويشت زرو) په شمېر د ښي لاس ( يوکلي) موټرونه په سیستم کې ثبت شوي او سټیکر ورکړل شوي دي.

• په هیواد کې د ښي او چپ لاس موټرو د ثبت بهیر پیل شوی دی.

ـ د افغانستان لاس( چپه لاس یو کیلي) ( نهه ويشت زره) موټرونه د ټرافیکو په سیستم کې ثبت شوي دي.

• د ټرافیکي خدمتونو د بریښنایي کولو د عمل پلان پیل شوی او تراوسه یې شل سلنه پلي شوی دی.

• **روغتیایي خدمتونه:**

• کورنیو چارو وزارت پولیسو او د هغوی کورنیو ته د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه درى سوه بستریز ملي او تخصصي روغتون لري.

• همدارنګه د روغتیایي خدمتونو په دې مرکز کې د رواني روغتیا روغتون امریت ،پولي کلینیک او د انتاني روغتون روغتیایی چوپړتیاوې وړاندې کوي.

• د کورنیو چارو وزارت د هېواد په ۱۲ لومړۍ درجه ولایتونو کې ۲۰ بستریز روغتونونه او په پاتې ولایتونو کې د کورنیو چارو وزارت د قطعاتو او جزتامونو په کچه د کلینک ۱۳۵ امریتونه لري.

• د تیر یوه کال په موده کې په مرکزي تخصصي روغتون کې ۲۸۰۴۳۹(دوه لکه اتیا زره څلور سوه نهه دېرش) تنه ناروغانو درملنه شوې ده.

• په مرکز کې د ۲۸۰۶۷(اته ويشت زره اوه شپږ شپیته) بیستري ناروغانو درملنه شوې ده.

• ۵۴۵۷۹ (څلور پنځوس زره پنځه سوه نهه اویا) ناروغان د بیلابیلو لابراتوارونو او تشخیصي ازموینې/ ټستونه کړي دي .

• په ټولیزه توګه د ولایتونو د امنیه قوماندانیو په روغتیایی څانګو کې ۵۶۷۸۰ (شپږ پنځوس زره اووه سوه اتیا ) ناروغانو درملنه شوې او ۵۷۹۳ (پینځه زره اوه سوه دري نوي) بستري ناروغان روغ شوي دي.

**پېښو ته د رسېدو او اوروژني رياست پوليس:**

پيښو ته درسيدو او اور وژني لوی رياست د هيواد په کچه د اورلگيدو د مخنيوي او اور وژنې اړوند پيښو ته د رسېدو او د اور له خطره خلک او د خلکو شتمنۍ خوندي کولو مسوليت لري. همدارنگه د اور د مخنيوي او په وړاندې تدابير نيول، په دولتي او غير دولتي ودانيو کې د اور د مخنيوي او ډاډمنتيا لپاره د وسايلو شتون او د اساسي سروی، تخنيکي سروې، اوپراتيفي سروې او تخنيکي مراقبت د اور وژنې د طبيعي پيښو لکه زلزلې، واورې ښويدنې، سيلابونو، د الوتکې غورځيدو او ټرافيکي پيښنو سره د مبارزې مسوليت لري.

دا اداره د دوه زرو په شاوخوا کې پرسونل په خپل تشکيل کې لري، چې د هېواد په ۳۴ ولايتونو او ۲۳ بندرونو کې په دندو بوخت دي.

په وروستي يوه کال کې د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې ۱۴۱۴ طبيعي او غير طبيعي پېښې ثبت شوي، چې ۵۵ سلنه يې په مرکز او پاتې نورې يې په ولايتونو کې پېښې شوي دي.

په دغو پېښنو کې په اټکلي ډول زموږ هېوادوالو ته د ۲۳۷۵۰۰۰۰۰(دوه سوه اووه دېرش ميليونه پنځه سوه زره افغانۍ) په ارزښت مالي زيان اوښتی دی.

په ورته وخت کې ىېښنو ته د رسېدو او اطفايي رياست پوليسو د ۲۴۱۳۰۰۰۰۰۰( دوه مليارده، څلور سوه او ديارلس ميليونه ) افغانيو په ارزښت د هيوادوالو مالونه د اور او طبيعي پيښنو څخه ژغورلي دي.

• په هيواد کې د احتمالي طبيعي پيښنو د مخنيوي لپاره په خصوصي سکتور او دولتي ادارو کې د جلا پلان له مخې د اور وژنې او عامه پوهاوي کمپاينونو ته وده ورکول.

په کابل او ميدان وردگو ولايتونو کې، د دوه اطفايوي ستيشنونو پرانيستل

ټولو ولايتونو، بندرونو او گمراکاتو ته د تخنيکي ټيم ليگل او پيښنو ته د رسيدو مديريتونو د فعالولو په موخه د نفتي زيرمو استخراج

د ټولو غير فعاله تخنيکي او اطفايوي وسايلو فعالول چې له کلونو راهيسې غير فعاله وو

د کابل په پلچرخي سيمه کې د گازي بالونونو د ډکولو په موخه د يوه هنگر جوړول

پيښنو ته د رسيدو ۴۰۰ تنو منسوبينو ته د ظرفيت لوړوني او زده کړو زمينه برابرول

**د عامه خدمتونو رياست:**

• نارينه او ښځينه غوښتونکو ته د جرمي مسووليت نه لرلو ۴۳۱۹۷ (دري څلوېښت زره او يو سل اووه نوي) فورمي د عامه خدمتونو مرکز له لوري ويشل شوي دي. چې د دندو د ترلاسه کولو پر وخت لپاره اړين گڼل کيږي، پاسپورټ، پيژندپاڼه، د نوم سمونه، په پيژندپاڼه کې د عمر سمون، د کورونو د موټرونو د معاملو ، سياحتي او زيارتي شرکتونه د لاربنود د کور او موټرونو د راکړې ورکړې ، شرکتونه او نور جوازونه شامل دي.

• په ټوليزه توگه ۴۱۰۰ فورمي ويشل شوي دي، چې په کې د وسلو د ليږد او د زغره والو موټرو د گرځيدو جوازونه شامل دي.

د کورنیو چارو وزارت له مشرتابه سره د ۱۷۴۵۹ (۱۷ زره څلور سوه او اته پنځوس) مراجعینو د ناستې زمینه برابره شوې چې، ترې د ۸۳۷۰( اته زره درې سوه اویا) تنو د غوښتنلیک او عریضو پاڼې د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې اجرا شوي دي.

**د عامه ساتنې ریاست:**

د ملي او نړیوالو پروژو د امنیت برابرول د عامه ساتنې ریاست له لوري!

د عامه ساتنې ریاست د عامه ګټو د پروژو او زیربناوو د امنیت د نیولو په برخه کې د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي.

دې ادارې په تیر یو کال کې په ټولیزه توګه د هیواد په کچه د (۵۵) پروژو امنیت نیولی چې، (۱۳) ملي او پرمختیایي پروژې، (۲) خود کفا دولتي پروژې، (۱۵) نړیوالې پروژې او (۲۵) خصوصي سکتوري پروژې شاملې دي.

دغه ریاست په یو کال کې توانیدلی دی چې د امنیتي خدمتونو له لارې ( یو میلیارد څلور سوه او دیارلس ملیونه او اووه اتیا زره افغانۍ) راټولې او خزانې ته یې وسپارې.

له دغې تصدۍ سره د امنیتي خدمتونو د ترون د لاسلیک په موخه ټولټال (۳۰۹) امنیتي سروې ترسره شوي، چې (۱۳۹) مرکزي امني سروې او (۱۷۰) ولایتي امنیتي سروې شاملې دي.

د امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۴۰۰/۸/۳ نیټې د (۱۴۰۸) ګڼې فرمان او د دې ادارې د اجراییوي رئیس په لارښوونه د دې ادارې د تشکیلاتو د تعدیل پلان ترتیب شوی دی.

په مرکز او ولایتونو کې ټولټال (۱۷۶۱) امنیتي ساتونکو مسلکي زده کړې کړي او د فراغت سندونه یې ترلاسه کړي دي.

په مرکز او ولایتونو کې ۴۳۳۰ تنه امنیتي ساتونکي استخدام شوي دي. له هغه وخته چې په ټول هېواد کې امنیت ټینګ شوی او وسلو او تجهیزاتو ته بیړنۍ اړتیا نشته، نو د عامه ساتنې ادارې ۱۷۲۰ میله بېلابېل ډوله وسلې، ۱۵۸۶ شاجورونه او (۱۵۳ زره یو سل او شپږ اویا فیره) ډول ډول مرمۍ د امنیتي او دفاعي ځواکونو له لیکو څخه راټولې او ډیپو کړې دي.

**د کورني امنیت لوی ریاست**:

یاد ریاست د کورنیو چارو وزارت په ټولو ادارو کې په تکتیکي او ستراتیژیکو څانګو ټول اپراتیفي مهم کارونه کوي.

د یاد ریاست یوه اساسي دنده، د کورنیو چارو وزارت پر تشکیل او ټول جوړښت کې د فساد سره مبارزه ده.

دغه راز، د پولیسو په لیکو کې د دښمن د نفوذي کسانو پیژندل، بهتر ته د وظیفوي اسرارو د افشا مخنیوی او د ملي پولیسو په لیکو کې د بهرنیو استخباراتي کړنو او فعالیتونو څنثی کول د دغه ریاست له دندو څخه شمیرل کیږي.

په تیر یوه کال کې د دغه ریاست کړنې او لاسته راوړنې:

په تیر یوه کال کې، د کورني امنیت ریاست منسوبینو، ۳۲۴ بیلابیلې جرمي پیښې کشف کړي چې د یادو پیښو په تړاو ۱۷۸۹ تنه د پلازمینې کابل په ګډون د هیواد په نورو ولایتونو کې نیولي چې، له ډلې یې ۹۹۵ تنه نظامي منسوبین دي.

دغه راز، ۲۸۶ تنه پولیس د دوی د منفي کړنو پر بنسټ د ملي پولیسو له لیکو ایستل شوي.

۴۳۶ بېلابېلې وسلې، ۱۶۷۲۲ فیره مرمۍ، ۲۸ کړۍ ماینونه، ۵۰ بېلابېل صندفونه، ۱۰۸۰ شاجورونه، ۷۱ لاسي بمونه، د درنو وسلو ۷۳ سرګلولې، ۹۹ کیلو چاودیدونکي توکي، ۷۶ مخابرې، ۷ د جیمر دستګاوې، یو د

ماین پاکې رباط، ۱۲۴ بېلابېل موټرونه، ۶۳۲۸۳۹( شپږلکه او دوه دېرش زره او اته سوه درې نوي) بنډله منع درمل او اویا زره(۷۰۰۰۰۰) نغدې افغانۍ افغانۍ شاملې دي.

اته شبکې، د انسانانو قاچاق کوونکي، جاسوسان، فریب کاران، مافیایي کړی، د تاریخي اثارو لېږدونکي، د غیر اسلامي ادیانو او د فحشا ترویج کوونکي شبکې کشف او نیول شوي.

(۱۳۲۵۳) قطعي کشفي اطلاعات تحلیل شوي.

(۵۷۵) مورده د سرحدي تخطیو اطلاعات.

د ملي پولیسو د قطعاتو او جزتامو (۲۵۱) تحلیلي ریپوټو جوړول.

**د څار/تفتیش لوی ریاست**

د کورنیو چارو وزارت د تفتیش لوی ریاست د قوانینود پلي کېدو، مقرراتو، د مالي او غیر مالي موضوعاتو کنټرول، وظیفوي احضاراتو، د ځواکونو د شتون او ورته نورو موضوعاتو د څار او څېړولو په موخه منځ ته راغلی دی.

د تفتیش او څار لوی ریاست بنسټیزې موخې هیوادوالو ته د خدمتونو وړاندې کول دي، چې د رښو خدمتونو د ترسره کولو او له فساد پرته د ځواب ویوونکي په توګه د پولیسو او کورنیو چارو وزارت لورته د خلکو ملاتړ جذب کړي.

د تفتیش لوی ریاست د پولیسو او کورنیو چارو وزارت موضوعات په دریېو لویو برخو کې څېړي.

1. د اداري تفتیش/ څار ریاست
2. مسلکي معیارونو د تفتیش/ څار ریاست
3. د عینیاتو د تفتیش/ څار ریاست

د ددې ادارې فعالیتونه:

- د پلان شویو پروګرامونو پر بنسټ د کورنیو چارو وزارت ۶۴۳ قدمې څېړل شوي دي.
- د نا پلان شویو پروګرامونو پربنسټ د کورنیو چارو وزارت ۴۶۸ فعالیتونه څېړل شوي دي.
- د څېړنو پر بنسټ د امنیه قومندانیو په کچه ۱۷۴۵۴(اولس زره څلور سوه او څلور پنځوس) پکار او کمبود بستونه، چې افسران، ساتنمنان، ساتونکي، مامورین او اجیران پکې شامل دي، په نښه شوي دي.

۵۵۱۲۷۱( پینځه لکه او یو پنځوس زره او دوه سوه او یو اویا) افغانۍ، چې پولیسو ته په معاشونو او اعاشې کې زیاتې حواله شوې وې، په نښه او وضع شوي دي.

- د ۴۸۳۰۰ لیټرو تیلو د غلا مخه نیول شوې ده.
- شهیدانو او معلولینو ته د خدمتونو د وړاندې کولو څارل دوام لري.

• ۱۴۷۴ میله وسلې او ۵۱ موټرونه له نامسووله کسانو راټول شوي دي.

**د پولیسو حقوقو لوی ریاست:**

د پولیسو د حقوقو ریاست د کورنیو چارو وزارت حقوقي څانګه کنټل کیږي، چې بنسټیزې دندې یې د پولیسو ځواکونو حقونو ته رسیدل، د پولیسو د پوهاوي د کچې لوړول، د پولیسو د حقوقي کړنو څار، د زندانواو توقیف خونو د حقوقي وضعیت څار، د لیکلي حقوقي اسنادو څېړنه، عادي قوانین، مقررات او د کورنیو چارو وزارت اړونده کړنلارې او لایحې شاملې دي.

د پولیسو د حقوقو لوی ریاست لوی فعالیتونه:

• په ټولیزه توګه، ۲۰۴ قطعي ملي اسناد، چې پکې عادي قوانین، مقررات، کړنلارې، لایحې، کورنیو چارو وزارت اړوند قراردادونه شامل دي، د کورنیو چارو وزارت د حقوقي کارپوهانو له لورې په حقوقي توګه پیژندل شوي دي.

• د کوچنیانو او ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۵۸۱ قضیې، چې په تېر یو کال کې د کورنیو چارو وزارت حقوقي څانګو ته له بېلابېلو سرچینو راستول شوي وې، رسیدنه ورته شوې.

• د پولیسو په لیکو کې د ۱۱۳ کم عمره کسانو د استخدام مخنیوی شوی.

• په تېریوکال کې۲۰ ښوونیز او د پوهاوي پروګرامونه ،چې ( خلکو سره د پولیسو د سلکو څرنګوالي او د اسلام له نظره د شکنجې منع) په سرلیکونو وو، په مرکز او لایتونو کې ترسره شوي، چې پکې (۶۵۲) کسانو برخه اخیستې ده.

• د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې ۱۰۲ ښوونیز سیمینارونه پولیسو ته په لار اچول شوي وو، چې ۲۵۵ تنو منسوبینو پکې برخه اخبستې ده.

• د پولیسو ۷۸ توکه نسبتي دوسیې له حقوقي نظر او تطبیق وروسته د کورنیو چارو وزارت کشفي او اپراتیفي بنسټونو ته لیږل شوي دي.

• د هیواد مرکز او ولایتونو ته د څېړنې او ارزونې په موخه د پولیسو ۱۶ اړوندو مرکزونو ته ۱۶ څارونکې ټیمونه لیږل استول شوي دي.

**عامه اړیکې او رسنۍ:**

د کورنیو چارو وزارت یوه مهمه او اساسي دنده له خلکو او د ټولنې له بېلابېلو طبقو سره د ښو او دوامداره اړیکو تامینول دي.

د عامه اړیکو ریاست د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې له خلکو سره د اړیکو د ټینګښت او د خلکو او پولیسو ترمنځ د شته واټنونو د لیرې کولو په موخه کار کوي او همدارنګه د کورنیو چارو وزارت او رسنیو ترمنځ د اړیکو او همغږۍ د رامنځته کولو په موخه کار کوي.

**عامه اړیکو لوی ریاست د یو کال په موده کې توانیدلی چې لاندې فعالیتونه ترسره کړي:**

• د عامه رسنیو او ټولنیزو پاڼو څخه د پولیسو د ځواکونو د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د 197 ویډیو کلیپونو، 188 ویډیو راپورونو، 831 خبرتیاوې او اعلاناتو تولید او خپرول.

• 12 خبري کنفرانسونه، 14 مطبوعاتي پروګرامونه د مختلفو مناسبتونو لپاره، 6 د رسنیو سره د ستراتیژیکو اړیکو پروګرامونه او 336 ویډیو او غږیز مرکې د ملي او نړیوالو رسنیو سره ترسره شوي.

د پولیسو، عامه خدمتونو، د اور وژنې او د ۱۱۹ شمېرې د معلوماتو د ورکولو په موخه پنځوس زره پاڼې چاپ او وېشل شوي دي.

• د هېواد په بېلابېلو برخو کې د پولیسو په اړه دري زره متره مربع اعلاناتي بلبورډونه چمتو او نصب شوي دي.
• دغه راز دغه اداره توانېدلې چې دوه میلیونه څلور سوه یو زره نهه سوه بېلابېلې پاڼې چې په کې اونیزې ورځپاڼې، مجلې ، فورمه جات او نورې اړینې لیکنې شاملې دي، چاپ او چمتو کړې.
د دې تر څنګ پولیس راډیو هم د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې فعاله ده چې په یوه کال کې یې ۳۵۳۱ دیني، ټولنیز، امنیتي، سپورتي، تاریخي، روغتیایي، ادبي، خبري او تفریحي خپرونې خپرې کړې دي.
دغه راز د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې ۱۳۷ مشورتي شوراګانې د خلکو د همکارۍ د راجلبولو په موخه جوړې شوې، چې په یوه کال کې یې ۱۴۹۲ غونډې له خلکو سره کړې دي.
ایډیالوژیکي برخې هم د دیني مسلو په اړه د زده کړې او پوهاوي لوړولو کې فعاله دي او د پولیسو په ټولو برخو او فرعي مجموعو کې د خلکو سره د پولیسو چلند په موخه کار کوي.
د پولیسو د ۱۱۹ معلوماتي مرکز له لارې د خلکو د شکایتونو د اوریدو په موخه په تیر یوه کال کې د خلکو څخه ۷۲۷۹ شکایتونه ترلاسه شوي، چې په وخت سره ورته رسیدګي شوي دي.

**د څلورو وروستیو کلونو لپاره د کورنیو چارو وزارت پلانونه او برنامې**
د کورنیو چارو وزارت خپلې څلور کلنې برنامې د دغه وزارت د څلور کلن ستراتیژیک پلان پر بنسټ جوړې کړې چې په لاندې ډول دي.
د کمیت او کیفیت له اړخه د ځانګړو او عامه امن پولیسو تقویه کول، د ترهګرۍ د ودې او تمویل سره مبارزه، د هیواد په ښارونو کې د امنیتي کمرو د نصبولو زیاتوالی، د لویو لارو د امنیت لا ټینګول، د سایبري، اختطاف، انسانو او مالونو قاچاق له جرمونو سره مبارزه او همدا راز نړیواله جنایي همکاري، د انټرپول سازمان سره د ترهګریزو ډلو د مشرانو او اعضاو تثبیت او تعقیب.
له غیر مسووله کسانو او اداراتو څخه د کورنیو چارو وزارت د وسلو، وسایطو او وسایلو راټول او د غیر قانوني او بې اسنادو وسلو، وسایطو او نظامي توکو راټول.
د نشه یي توکو پر وړاندې د عملیاتو زیاتوالی، د نشه یي توکو سره د مبارزې منسوبینو ته د ظرفیت لوړونې د تخصصي برنامو جوړول، د دولتي ادارو، خصوصي سکتور، خلکو، ګاونډیو او سیمې هیوادونو او نړۍ سره د دغه شومې پدیدې د لمنځه وړلو په موخه د لا ښه همغږۍ رامنځ ته کول.
د فساد سره مبارزه، د رهنمودي او تقنیني معیارونو په رڼا کې د ملي پولیسو له کړنو څخه د څار پروسې وده.
د اصل مکافات او مجازات تطبیقول او په ګمارنو او ترفیعاتو کې د شایسته سالارۍ اصل ته پام نیول .
د اړتیا وړ سیمو کې د اور وژنې د ستیشنونو ځانګې ته وده او د اور لګیدنې احتمالي پیښو د مخ نیوي او کمولو لپاره د اطفائیوي سرویږ ګانو کول.
د دولتي او خصوصي ملکیتونو د غاصبینو نیول، د چاپیریال ساتنې ملي ادارې د برنامو د پلي کولو په موخه د یادې ادارې سره پوره او فعاله همکاري.
د عامه المنفعه پروژو، طبیعي زیرمو او معدنونو، دیپلوماتیکو ادارو، وزارت خونو او مدد رسانو بنسټونو د امنیت لا ښه نیول.
د موازي او غیر موثره تشکیلاتو د لمنځه وړلو په موخه د تشکیلاتي جوړښت بیا کتنه او ارزیابي.
د ړون والي او کارونو د لا ښه والي او تیزوالي په موخه د برقي سیستم جوړول او پلي کول.
د اسلامي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره د پولیسو د تعلیمي او تحصیلي نصاب تعدیل او بډایه کول، د پولیسو اکاډمۍ په چوکاټ کې د کمپیوټر ساینس پوهنځي جوړول او د لوړو زده کړو له وزارت سره د پولیسو اکاډمۍ د تحصیلي اسنادو د اعتبار په موخه د د تفاهم لیک لاسلیک کول، د پولیسو تعلیمي او اکاډمیک ظرفیت لوړول، د سپورت ټیمونو او کلپونو جوړول.
د حکومت او ولس تر منځ د اړیکو د ټینګښت په موخه له مشرانو او مخورو سره ناستې، د قومي او سمتي دښمنیو له منځه وړل، د بې وزلۍ کمول او د کار د زمینې برابول، د سیمه ایزو ادارو په همکارۍ

د متوازن پرمختيايي پلانونو جوړول او د ښې حکومتولۍ پياوړتيا، د سيمه ييزو ادارو په جوړښت کې اصلاحات او د يوه اغيزمن الکترونيکي حکومتولۍ سيستم رامنځته کول.
د پاسپورت خدمتونو د بهير روڼتيا او زياتوالي، د پاسپورت خدمتونو د وړاندې کولو لپاره په کابل کې د څلورو زونونو فعالول.
د لويو لارو په اوږدو کې د ټرافيکي تم ځايونو جوړول او په څلور لارو، لويو لارو او سړکونو کې د ترافيکي څراغونو او نښو فعالول ، د ترافيک معلوماتو سيستم کې د ټولو موټرو ثبتول ، د موټر چلولو جوازونو، لايسنسونو او پليټونو صادرول ، بريښنايی سيسټم ته د بې اسنادو موټرو لپاره د ځانګړي طرزالعمل رامينځته کول.
د کورنيو چارو په وزارت کې د تلويزيوني چينل جوړول.
د شهيدانو وارثينو او معلولينو ته د مناسبو او شفافو خدمتونو پياوړتيا.
د کورنيو چارو وزارت قطعاتو او جزتامونو ته د سولر بريښنا سيستم نصب او د ننګرهار، ميدان وردګو او هلمند ولايتونو په ښوونيزو مرکزونو او د ليمون په ورکشاپ کې د ښاري بريښنا نښلول.
**دا د هغه ستراتيژيکي موخو له ډلې دي چې د کورنيو چارو وزارت څلور کلن پلان په نقشه کې په پام کې نيول شوي دي.**